لکه چې يو عام انسان ځواني په مخه اخستي ښځې ته په کاسيرو نظرو نو ګوري - د ښځې دَ وصال تمنّا د مېن د پاکې مينې آخري منزل، او د انساني ژوند د ارتقاء معراج ګڼلے شي - د ښځې نه فطري اقتضاء هم د غه کېدے شوه - ځو ځن زماني دومره پېښ عيښت روڼ کړو - انسان دَ فطرت نه دومره لرې لاړو - مشيني دور مصنو دومره عام کړو چې د فطرت پېه انسان د فطرت په غېږ کښې آرام کولو د پاره د تخيّل د بلندونه هم تېر شو او داوهامو په ځڅه کړو کښې د فطري اقتضاګانو په لټون پسې ورک شو - دغه وجه ده چې د نن د زلمي شاعر قوتِ واهمه يوه ښځه، ښځه نه بلکه يوه نغمه تصور کوي او د نغمې نه چې دَ روحاني تسکين سرچشمه ده، د جنسي تسکين موهوم اقتضاء کوي او وائي چې

د ښځو ب کور دې ودان اوسي تل
چې ئې د ښځو نه نغمې جوړې کړې

نه يو هېڅ م چې د نفسياتو صباني ماهران به د ننني دور تجزيه او د دغه تجزيې په رڼا کښې دَ مغموم د دې الهامي شعر تشريح په څه ډول کوي - ځو زه په خپله په دې نتيجه رسېدلے يم چې د مغموم شاعري هم لکه د مشرق ښتو ني شاعري ده او هر ښتونے فن هم د شاعر او فنکار دَ ژوندا ښتو ني آئينه ده ) مغموم دَ ماشوم والي راسې دَ رسم ورواج په سنګينو قلګانو او د اخلاقياتو او عقائدو په فولادي پنجره کښې دا سې بند پاتې شوے دے چې هغه د ښځو ب دَ حرارت نه هډو خبر نهٔ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دړې شعرونه واورئ - نو بيا به ډېرې لوېټې والوزوم - شعرونه دا دي -

ع

ستا دَ اوربل دا پرېشانۍ مزه کړه
دَ تورو سترګو حېرانۍ مزه کړه
هرې تورې پسې ګناه کوم
څومره توبو کښې پښېمانۍ مزه که

او مولاناصيب

څوانه څوانۍ کښې دَ څوانۍ تقاضې
په بوډا توب مسلمانۍ مزه که

دړې شعرونو په اورېدو ستهوډ نيشانو حسبِ عادت ډېر واه واه اوکړل او مولاناصيب هم مُسکې غوندې شو او سرې او څوزولو چې کښې ستا خبره رښتيا ده -

نو زما ددې دومره اوږد بيان نه مقصد دا دے چې ما څه اراده کړې وه چې زهٔ به خپله شاعري هيڅ کله نهٔ چاپ کوم څو نباغلے اياز داؤدزے را پسې شوے وُې چې مهٔ ويرېږه شاعري چاپ کړه - روس هغه دَ نن نه ډېرش کاله مخوا وخت نهٔ دے روس پښتو ادب دومره ترقي کړې ده چې ستا په شاعرئ څوک اعتراض نشي کولے بلکه خلق به ئې په سر سترګو قبوله کړي نو دَ اياز خان په وېنا مې کتاب چاپ کولو ته غاړه کښېښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدای دې ګونګ کړه څه له پېغلو ته خبرې کړي

چې مې غټې قسمونه اول مات کړل
بیا توبې مې ځېلې ټولې ورپسې کړې

تصور چې د سرو شونډو راله راغلو
نو راپاڅېدم دیوې مې ټولې سرې کړې

که هر څو مره هم د ځوږ یم نو به روغ شم
څو که زلفې دې په ما لږې څورې کړې

په دې راز باندې زه خدای ګو که څه پوه شوم
چې دې ستوو و بڼکا چا ته اشارې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې واره ټوټېدلې بې اختیاره څڅېدلې
نن اوښکې مې په مخ ډېوې ډېوې وې بلېدلې

بېګاه په ډک محفل کښې راته اووایه چې ګُلې
ته ماته خندېدلې که بل چاته خندېدلې

بې تانه ګُلې څرنګه خاموشه خاموشې وه
ټیرې هم د ټیرو نه ویرېدلې بوږنېدلې

د مینې ابتداء کښې څه عجیبه شان قصه وه
زړه تاته شرمېدم ګلې ته ماته شرمېدلې

معصومه خو لیونے دے څه په خود نه دے ځکه
خفه ترې نه په څه یې ګیله منه یې ترې ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د وصال په رنګينو کېنې اوسم
په غوړېدلو پسرلو کېنې اوسم

ما خو يو ګل د پسرلي کړې دسبه
چې بيا د پېغلو په کمڅو کېنې اوسم

ستا د پښنو ټپ په هر يو شرنګ مې قسم
ژوند مې نغمه شو په نغمو کېنې اوسم

دا پېغلتوب مو خدائ نصيب کړه پېغلو
زه مو نشه کړم په نشو کېنې اوسم

د ژوند د ډېرو ناکامو د لاسه
يو اسوېلې شوم اسوېلو کېنې اوسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجې او ښکلې مې څڼې يې په ککو کښېږي
لکه ستورې چې څڼې يې تورو شپو کښېږي

د اغيارو په محفل کښې داسې ښکارې
لکه ګل چې ټوکېدلے وي اغزو کښې

اے ناصحه که ستا او منم توبه کړم
بې رنګې به راپېدا شي مېکدو کښې

ډکې شپې ورته د ستورو هم پسخېږي
زړه ګلونه ئې چې اېښولي وي ګمڅو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# "غم"

لږ خو مې پرېږده غمه — چې لږه ساه واخلم
چې لږه ساه واخلم — نو بيا به تا واخلم

ورکوټے زړهٔ دے زما — دا اُميدونه پکښې
پيو تسکے زړهٔ دے زما — دا ارمانونه پکښې

دَ چا لېدونه ګورے — زهٔ ناقلاره يمه
نه چې نااُميده ګورے — زهٔ دَ بېهاره يمه

دومره مې پرېږده چې خوند — زهٔ دَ خندا واخلم
خوند دَ اشنا دَ مينې — څهٔ دَ وفا واخلم

لږ خو مې پرېږده غمه
چې لږه ساه واخلم

چې لږه ساه واخلم
نو بيا به تا واخلم

